د پالیسي پاڼو د خپرونی لړۍ

د افغانستان په ښاري سیمو کې د بیوزلۍ لمنځه وړل

# موخه ایزې مرستې له هغو کورنیو سره چې بېلا بېلو ګټورو او د ښو عوایدو کارونو ته لاس رسی نلري

| ۱۳۸۶ د وری میاشت | د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره | پالا کانټور او ستیفن شوټ |
|---|---|---|

## لنډیز

په افغانستان کې د دندو ناکافی امکانات د ښاري بیوزلو خلکو لپاره د زیانمننې اصلي سرچینه او ښایې چې په حکومت کې هم د سیاسی بې ثباتي سرچینه ګڼل کیږي.[۱] خو بیا هم، د زیان مننی کچه د کارکوونکو د عمر، جنس او توان، ناتوانی، معیوبیت په پام کې نیولو سره توپیر لری خوپه ډیرو برخو کی دا ډول عوامل، د وګړو او د هغو د کورنیو لپاره د موجود کار ډول او په پایله کې د هغوی ګټه ټاکي له دې کبله د کورنیو سمبالتیا له دې سره تړاو لري چې د کورنیو کوم غړی نارینه، ښځینه، کوچنې معلول د کار د قوې سره د یو ځای کیدو چمتوالی لري.

دغه پالیسي پاڼه د کورنۍ د غړو د ګټو ځانګړې کچه او د کار د چمتوالي په ستراتیژیو باندی د هغو داغیزمنتیا ځرنګوالئ او په پایله کې ددغو کاري سمبالتیا و د بیلګو د اغیزې اچونې ځرنګوالی د ژوند د اوږد محالي بوختیا باندې تر غور لاندې نیسي هغه کورنۍ چی روغ رمټ نارینه غړی نلري چې د کار لپاره پری تکیه وکړی، دا د هغو کورنیو له ډلې څخه شمیرل کیږي چې بسیاوي کارونو ته له کومو چې ښه ګټه لاس ته راوړلای شی ډیره لږه لاس رسی لري، نو ځکه خو دغه کورنۍ تر ټولو لا زیان منونکې ډلې جوړوې دغه ټکی یو د اوږد محاله څېړنو کلیدی موندنو څخه ده چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری له خوا د ښاري معیشتونو په هکله په دریو ښارونوکې تر سره شوی دی.[۲] دغه سند ډیر پیاوړی سیاست کارونې وړاندې کوي، ځلورم مخ ته پام وکړئ چې د کورنیو د بیداره غړو سختې او پر دندو باندې د هغوی د اغیزې ځرنګوالئ او له کار څخه د ګټې لاس ته راوړل بیانوي همدارنګه دغه پاڼه استدلال کوی چې د ژوند د معیشت د سمبالتیا په اړه مرستې باید هغو خلکو ته متوجه شی چې دندو ته تر ټولو لالږه لاس رسنه لری.[۳]


محتوا


ښځی او کوچنیان د ښارونو د کاری بازار فعاله ګډون کوونکې ۱
کورنۍ چې کارګر نارینه نلری د بیوزلو ښاری کورنیو تر ټولو لا زیان منونکې ۲
وړاندیزونه ۴


## ښځی او کوچنیان د ښارونو دکاری بازار فعاله ګډون کوونکي

څیړنیزې بیلګې دا په ګوته کوی چې د ښځو د کاری کچې راپور تر څیړنې لاندې کورونو کې پام وړ برخه جوړوي ددې سره سره، تر څیړنې لاندی سیمو کې د ښځو د کار په کچه کې توپیر موجود دی د ښځو د کارکچه په سلو کې دیره ټیټه کچه یې په جلال آباد کې له ۱۵ څخه پیل ده یعنی په کابل کې په سلو کې ۲۷ او د نصاب حدیې په سلو کې ۴۳ په هرات کې لوړوالی پیدا کوی له دې کبله داسې ښکاري چې په هرات کې په ځانګړی توګه د کار فرصتونه ډیر شوي دي او کورنۍ کارونه د ښځو تر ولکې لاندې دي، لومړی شکل او وروسته کابل، کورنۍ کار باندې د ورته تمرکز له مخی دوهم ځای نیسي د ښځو د ګمارنې کچه په جلال آباد کی د دوو نورو ولایتونو په پرتله ټیټه ده خو د آزادو کارونو د مرکزیت شتون ډیر دی ددې سره سره په دغه ولایت کې تر

*لومړی شکل:* د کار د ډول پر بنسټ د ښځو کاری کچه




۱ د پالا کانتور او ستیفن شوټ په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې غیر رسمي بوختیا او د ښاري معیشیت امنیت، لیکنه وګورئ، کابل، د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

۲ اوږد محاله څېړنه چې د اروپایي کمسیون له خوا تمویل شوه، ۲۰ کورنۍ یې په هرات، کابل او جلال آباد کی تر څیړنې لاندې ونیولې ددې پروژې د موخو او چلن په هکله د لا ډیرو معلوماتو لپاره د، په افغانستان کابل کې ښاري معیشیتونه په هکله د جی بیل او ستیفن شوت لیکنه وګورئ کابل د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

۳ ریپوټونه یواځې د معلولیت په اړه د کورنۍ په کچه، په کورنی کې معلول غړی شته که نه، را ټول شوې دې نه په انفرادي توګه له دې کبله انفرادي پایلامې د معیوبیت د ډول له مخی وړاند شي

### د لیکونکو په هکله


پالا کانټور د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداری د معیشتونو او جنسیت د څیړنو لوړ رتبه مدیره ده. نوموړی په برتانیې کې د شرقي انګلیا په پوهنتون کی د انکشافی مطالعاتو په څانګه کی د ښوونکی په توګه هم دنده تر سره کوی. نوموړی د بیوزلی او زیان منني د مطالعې، او کاری شرایطو ته د لاس رسنی، او د هغه عوایدو تحلیل په برخو کی د جندر (جنسیت) له لرلید څخه تخصص لری. ستیفن شوټ د دغه څیړنیزه اداري د ښاری معیشتونو پروژه له ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۶ پوری اداره کوله. اوس مهال، نوموړی د خمکو د پالیسی او اداری سمون د یو پروژی د ټلی مشرتابه په غاړه لری، دغه پروژه د بین المللی پرمختګ لپاره د برتانیې سازمان، اسیایی انکشافی بانک او د کرنی او اوبه لګونی وزارت په ګډه مخکې زی.

*لومړی جدول*: د ورزنیو ګټو منځنۍ کچه (افغانۍ)[4]


| | ښځینه | نارینه | کوچنیان | لویان |
|---|---|---|---|---|
| کابل | ۲۰ | ۹۰ | ۵۷ | ۹۸ |
| هرات | ۳۷ | ۱۰۰ | ۴۸ | ۸۰ |
| جلال آباد | ۹۰ | ۱۳۰ | ۱۰۰ | ۱۲۰ |

ډیره حده د ښځو کارونه د ښځو د کورنۍ کار ماحول د کار ورکونکو لخوا تر سره کیږي لکه، سینګارځاي (د جامو وینځل) ګنډنې.

په دغه بیلګه کې له ۱۸ څخه کوچنی ماشومان د کار د کچو څخه ډیره ونډه ځان ته ځانګړې کوی، خصوصاً بیا په کابل کې د کاري کچو څخه د کوچنیانو ونډه په سلو کې۴۲ ده دغه فیصدی په هرات کې ۲۸ او په جلال آباد کې د سلوکې په پرتله ,,ده کوم کارونه چې(کمکیان تر سره کوی)په څرګنده توګه د ښځو د کارونو پشان ځانګړی ندی (دوهم شکل وګورئ) ، که څه هم زیاتره ماشومان په لنډ محاله آزادو کارونو کې بوخت دي هلکان ترنجونو ډیر پکار بوخت دی که چیری هم په هرات کې د ښونځي د عمر هلکان او نجونې د دندی له مخې د نورو ولایتونو په پرتله یوبل ته نژدې دي په سلو کی (۵۲ هلکان او په سلو کی ۳۵ نجونی کار کوی) له هرات څخه که تیر شو ، په کابل کې ۱۰په سلو کی نجونې او ۴۸ په سلو کې هلکان تر څیړنی لاندی کورنیو څخه پکار بوخت دي په جلال آباد کې بیا , په سلو کې نجونې او په سلو کی ۴۴ هلکان د کاری قوې برخه جوړوي.

دغه ورکړل شوي رپوټونه د افغانستان د بازارونو په ښاري کارونو کې د ښځو او کوچنیانو د برخې اخیستنې د کچې ښکارندوی دی، او د هغوی د تمایل څرنګوالی په بدلیدو سره د کار دډول د غوره والی صورت په ځانګړې توګه د ښځو په باره کې بیانوی د څیړنی لاندی کورنیو تر منځ د ښځو او کوچنیانو په کارونو باندې ډیره تکیه په ځانګړی توګه په کابل او هرات کې، ددغو کار لرونکو ارزښت د کار د چمتو کیدو د بیلګو منځته راوړل ښکاروی ددې سره سره په دغه کارلرونکو باندې د تکیې لپاره د لویانو په پرتله ددوي د ټیټې ګټې په سبب محدودیتونه شته دی څرنګه چی په لومړی جدول کی وینی د ورځنیو ګټو کچه هم د ښځو او هم د کوچنیانو د نارینوو په پرتله ټیټه ده د هرات او جلال آباد په ولایتونو کې د کوچنیانو ګټه د ښځو په پرتله ډیره ده په ټولنیزه توګه،

*دوهم شکل*: د ماشومانو کاری پیښبی د کار د ډول پر بنسټ




*دوهم جدول*: په کورنۍ کې د کارکوونکو منځنۍ ونډه

| د کارګرو غړو ونډه | ټوله | هغه کورنۍ چې مشری یې د ښځو په لاس کې ده | هغه کورنی چې نارینه کاګر غړی نلری | هغه کورنۍ چې معلول غړی لری | هغه کورنی چې نیمایې او یا له نیمایې څخه زیات کارګر غړی یې ماشومان دی |
|---|---|---|---|---|---|
| کابل | ۰٫۲۷ | ۰٫۳۲ | ۰٫۲۱ | ۰٫۱۷ | ۰٫۳۳ |
| جلال آباد | ۰٫۲۵ | ۰٫۲۵ | ۰٫۱۳ | ۰٫۲۳ | ۰٫۲۵ |
| هرات | ۰٫۳۸ | ۰٫۴۹ | ۰٫۲۴ | ۰٫۴۱ | ۰٫۳۸ |

دغه ورکړل شوي شمیري ښیي چې د کارکوونکو په توګه په ښځو او کوچنیانو باندی تکیه د زیان مننی نښه ده، ځکه چی ډول ډول کارونو ته د هغوي لاسرسي او له هغوی څخه لاسته راغلي ګټه د نارینه وو په پرتله ډیره لږه ده دغه موندنه، راتلونکی برخه کې، په کومه کې چې د کار د چمتو الی د بیلګو د پیلامو په تړاو ورکړنې چې د کورنیو په کچه وړاندې کیږي، د تاییدوړ ګرځیدلي دي.

## کورنۍ چې کارګر نارینه نلری د بیوزلو ښاری کورنیو تر ټولو لا زیان منونکې

په ټول کال کی کورنۍ څرنګه د کاری بدلونونو څخه برخمنې کیږي څلورم شکل دغه مسالی داسی څرګندوی چې په جلال آباد کې یوه کورنۍ څرنګه هم خپل بیلا بیل غړي په مختلفو وختونو کې په ټوله څیړنیزه دوره کې پکار اچولي دي، او هم دا چې د اړتیا اووخت سره سم څرنګه په ټولیزه توګه د خپلو کارګر غړو شمیرې ته بدلون ورکړئ دي,[5] کوم موسم کې چې کاری کچه تر ټولو لوړ حد ته رسیږی هغه د اګست او اکتوبر میاشتو تر منځ ده په دغه مهال کی ټو له کورنۍ یوې کلیوالې سیمی ته کوچیږی تر څو زراعتی مزدور کاری وکړی او څومره غړی چې کولای شی دغه کار تر سره کوی تر اغظمی عاید تر لاسه کړی د کال په اوږدو کې د کورنۍ پالندوی چې د بدنی معلولیت سره مخامخ دی او د ګټې لاسته راوړو په موخه لږ کارکوی او دا پداسی حال کې چې زیاتره زامن یې په ټول کال کې پکار بوخت وه.

دغه مسله، کاری چاپیریال ته دننه او یا له هغه څخه بهر د ښځو او کوچنیانو په خوځښت او هم د کمکیو کوچنیانو په کار پوری د تړاو په اړه غیر عادی حالت ندې ددی پربنا ځینی کورنۍ په کړکیچنو حالاتو کې کوچنیان او ښځې کار کولو ته اړباسي خو یو شمیر ډیرې نورې کورنۍ د کوچنیانو او د ښځو کار سره د پیسو د لاسته راوړو د اصلي سر چینې په توګه تړلي دي داسی فر کیږي چې دغه وروسته یادې شوې کورنۍ تر ټولو ډیر د پیسو لاسته راوړو لیوال او د هغوی د اړوندو خطرو سره تړلی دی په ۲م او ۳ م جدولونوکی ورکړل شوی شواهد د ښځو په کار پوری تړلې کورنۍ لپاره میشت خطرونه تاییدوی، خو نه د هغو کورنیو لپاره چې د کوچنیانو له لوري د لوړې کاری ونډې څخه برخمن دي هغه کورنۍ چې ماشومان یې به کار بوخت دی، د څیړنی لاندی ټولو بیلګو کې د

[4] ۱ډالر=۴۹,۵ افغانۍ

[5] باید ووایو چی په جلال آباد کی د نا امنی او د سیمه ایز کار په سرته رسولو کی د نه شونتیا له کبله د می د میاشتی څخه ډول اطلاعات په لاس کی نشته

*دریم جدول* : د وګړو پر سر د منځنی عوایدو میاشتنی کچه (افغانۍ)

| د عوایدو منځنی کچه په | ټوله | کورنی چې نارینه کارګر نلری | کورنی چې مشری یې د ښځو په لاس ده | کورنی چې مشری یې د نارینه په لاس ده | کورنی چې معلول غړی لری | کورنی چې معلول غړی نلری | کرونی چې نیمایې او یا له نیمایې څخه زیات کارګران یې ماشومان دی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | ۴۰۹ افغانۍ | ۱۱۱ افغانۍ | ۴۳۵ افغانۍ | ۴۰۳ افغانۍ | ۲۲۰ افغانۍ | ۴۴۲ افغانۍ | ۴۵۳ افغانۍ |
| هرات | ۲۴۰ افغانۍ | ۳۲۷ افغانۍ | ۷۴۹ افغانۍ | ۲۱۰ افغانۍ | ۴۸۱ افغانۍ | ۲۷۸ افغانۍ | ۲۹۳ افغانۍ |
| جلال آباد | ۵۴۳ افغانۍ | ۲۹۴ افغانۍ | ۴۳۸ افغانۍ | ۵۵۱ افغانۍ | ۵۰۰ افغانۍ | ۵۷۰ افغانۍ | ۵۴۳ افغانۍ |


کارګرو نیمایې برخه جوړوی، او له لویانو سره یوه اندازه او یا هم زیات میاشتنی عاید تر لاسه کوی کولای شو ووایو چې د افغانستان په ښارونو کې د کوچنیانو په کار باندې د پام وړ تکیه د بېوزلې د خطر پر کچې نه وړ ډیروې بلکه د کوچنیانو د وړتیا په تړاو نور خطرونه لری. لکه؛ د کوچنیانو پر زده کړې باندې چې له دې لارې څخه انساني پانګې رامنځته کوی لدې کبله، نن پداسې حال کې چې د کوچنیانو کار د ګټې د لاس ته راوړو وسیله ده، دغه مساله به په راتلونکې کې د دغو کوچنیانو او د هغوی د کورنیو لپاره د بېوزلې د خطر په منځ ته راوړو باندې تمامه شي.

هغه کورنی چې د ښځو په کار باندې ډاډه دی او یا کولای شو ووایو چې نارینه کارګر نلری، د هغو کیسه بیا لا په بشپړه توګه بله ده په کابل ښار کې بغیر د معلولو نفقه راوړونکو کورنیو څخه دغه د ښځو په کار باندې ډاډه کورنی بیا دټولی کاری قوی تر ټولو لا لړه ونډه جوړوی، او له نورو ټولو څېړل شویو بیلګو او ډلو څخه د وګړو پر سر لړ میاشتنی عاید ترلاسه کوی د ښځو پر عوایدو باندی د ډاډه کورنیو عواید څکه لږ دی چې دا په افغانستان کې د ښځو په فعالیتونو پوری تړلی دی، او په نتیجه کې، څنګه چې پورته ذکر شوه، د ټاکنی لپاره کارونه محدود دی او همدارنګه د کورنیو کارونو تولیدات خصوصاً هغه کارونه چې د فرعی قراردادونو له لاری تنظیمیږی ددغه شان اړیکی په عمومی توګه ترون کوونکو ته لا زیات قدرت روپه لاس کوی، چې د کار مواد برابروی او د کار د پایلی محصول اخلی او په نتیجه کې د ښځو د کار ګټه راخپله کړی.[۲]

د اهمیت وړ ده چې د سالم نارینه نفقه راوړونکې کورنی او کرونی چې مشری یې د ښځو په لاس کې ده د دغو دوه ډولو بیلګو د عوایدو تر منځ توپیر څرګنده شی دوهم ډول کورنی کیدای شی چې شي د نارینه کارګر درلودنکي شی، او لومړنی بیلګی په پرتله ښی ګټې ترلاسه کړی نو څکه خو مرستندیه پروګرامونه چې زیان منونکې ښځې او په ځانګړې توګه هغه ښځې چې د کورنیو مشری په غاړه لری، د مرستو لومړنی مستحق ګڼی، دغه پروګرامونه به خپل هدف ته چې د بیوزلی لمنځه وړل ده، ونرسیږی څرنګه چې په دریم جدول کې د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری څیړنه څرګندوی، یوازه په جلال آباد ښار کې د ښځینه سرپرستی لاندی کورنیو د شخص په سر لړ میاشتی عواید، تر لاسه کول، د ټولیزه بیلګی په پرتله چې سرپرستی یې ښځی وی مساوی او حتی د نورو ښارونو د ټولو بیلګو په پرتله زیات عواید لرلی څکه خو د زیان منونکو لپاره د مرستو په برابولو کې ډیر زیات پام ته اړتیا لیدل کیږی.

د څیړنیزې بیلګې کورنی چې معلول غړي ولري، د هغو کورنیو په پرتله چې معلول غړی نه لری یا په ټولیزه توګه د څیړنیزې بیلګې څخه لږ ګټه تر لاسه کوی. د کابل څخه پرته، دغه مساله په دی پوری تړلی نده چې په کورنی کې نفقه راوړونکې غړی لږ دی، بلکه د نفقه راوړونکې د کار د عاید په کچه تړلی ده څکه خو، کورنی چې معلول غړی لری او کورنی چې نارینه نفقه راوړونکې نلری د ربړنی زیان منونکې دی.

*دریم شکل*: په جلا آباد ښار کې د یوی کورنی د کاری خوځښت ستراتیژی




۲، ښځو ته د کورنیو کارونو له لاری صلاحیت ورکول د هندوستان څخه شواهد د پالا کانتو دغه څېړونه وګورئ، پرمختګ او بدلون ۴۴۵ـ۴۲۵ ;(۳) ۲۴؛ ګارام، ماسټ چن، او جیوالار، ۱۹۹۶ سیپنی خبری؛ په جنوبی آسیا کې د ښځو ته اقتصادی صلاحیت ورکول لنډن، د ای ټی خپرونې، بینیریا ال، او رولینز ام، ۱۹۸۷ د طبقه او جنسیت دوه لاری؛ د روسیې هیواد مرکز مسکو ښار کی د کورنی کار صنعت، فرعی ترون او د کورنی بیداره غړی شیکاګو، د شیکاګو پوهنتون خپرونی.

# وړاندیزونه

دغه پالیسی پاڼه پګوته کوی چی څرنګه زیان مننه د بی وزلی د ګتی په پرتله د کار بازار ته د لاس رسی سره په تړاو کی دی او داچی څرنګه دغه اړیکه د ښځی د سرپرستی څخه لا پیچلی ده. ددغه سند ډیره هڅه پر دی ده چی څوک کارکوی او هم دارنګه د کار بازارونو ته دوګړو لاس رسی، روغ رمټ نارینه کارګر ته دلالس رسی نشتوالی یوه کورنی تر ډیره حده د بی وزلی لپاره زیانمنوی، حتی د هغو کورنیو پر قیاس چی په زیاته کچه د ماشومانو پرکار ډاډه دی معلولوالی یو ډیر مهم عامل دی، په ځانګړی توګه ګټی ته د لاس رسی د کار د چمتو الی د وړتیا پر برابرولو د کورنیو په دننه کی وی کاری بازارته د موجودو نابرابریو په کوته کولو او د بی وزلی ګټی ته لږ والی لپاره لاندی وړاندیزونه کیږی.

١ په رسمی او غیر رسمی اقتصاد کې د باکیفیته کاری فرصتونو د رامنځته کولو له لاری د لویانو لپاره د کار فرصتونه سمول ترڅو به اوږد مهال او لنډ مهاله موده کې د کوچنیانو پکار باندی ډاډ کم شی.

٢ د کورنی د ژوند پایښت لپاره د کوچنیانو کار یو محوری عامل دي په لنډ محاله دوره کې د کوچنیانو د کار او زده کړو لپاره د آسانتیاوو برابرول.

- فعالیتونه چې د افغانستان په شرایتو کې مخه د مخه تر سره کیږی هغو باندی ساختاری کار پیل شی تر څو کوچنیو پروژو کچه لوړه شی.
- نورو بشپړیدونکو شرایطو په برخه کې دښو کړو اتکل وکړئ ترڅو د کوچنیانو دکار برابرول او په عمده توګه انساني پانګه اچونه او نورو چارچلنونو او نوښتونو ته پراختیا ورکړل شی.
- ډاډ شی چې د ښوونځیو درسي پلان پر ځای دی او داچې د زده کړو کیفیت په پوره ډول لوړ چې په زده کړو کې د کورنیو پانګه اچونه وهڅول شي.

٣ ډیره لیری خبر ده چې په لنډ او یا منځمهال کې د ښځو لپاره د کور څخه بهر د کار کولو په فرصتونو کې بدلون رامنځته شی، ځکه خو د کورنیو کارونو په حالت کې دی سمون رامنځته شی.

- د ښځو د مقام او قدرت د ښه والی د لارو لپاره د څیړنی تر سره شی تر څو په هغو باارزښته ځایونو کې چې هغوی اوس کار کوی په تولید او بازارموندنو باندی د هغو اداره زیاته شی.
- داسی ستراتیژی رامنځته کړی چې د ښځو له اوږو څخه د کورنی کارونو بار را کم شی او هغوی ته د پیسو په بدل د کار کولو وخت پیدا شی، یوه ستراتیژی اساسی خدمتونو ته، لکه اوبه او برق، د لاس رسی ښه والی دی
- ښځو ته دا توان ورکړ شی چې له کار وکوونکو او قرادادیانو سره خپلځانته د ګټی اخستلو لپاره سمه معامله وکړی دافغانستان په شرایطو کې دغه کار ستونځمن ښکاری نو ځکه خو باید له همدغه شان شرایطو څخه، درس واخستل شی، چیری چې کور څخه بهر د کار کولو لپاره د ښځو فعالیتونه محدود دی ,لکه ترکیه، مصر او پاکستان,

- د دی لپاره چې ښځو ته په غیر روایني کارونو کې مهارتونه ور وبښل شی، اوسنی کوښښونه د لا نور هم پراخ شی، ښایې چې دغه فعالیتونه په جندر کې شامل نوی او د نارینه وو له فعالیتونه څخه یې ارزښت لږ وی.

۴ په عمومی توګه باید چې د ښځو د کار کولو او له کور څخه بهر چاپیریال کې د هغوی په کار ګمارنې د منلو د زیاتولو په مخه باید چې کړه وړه بدل شی دغه شان بدلونونه هم د ښځو او د نارینه وو تر منځ اړین دی.

- د څیړنی له لاری دی په سند سره څرګنده شی چې ښځی په ښاری معیشت کې څنګه او په څه اندازه برخه لري هغه خنډونه دی په ګوته شی چې د ښځو برخه محدودوی او دا دی څرګنده شی چې د دغو خنډونو لمنځه وړل څنګه منتج پر عادل پرمختګ او د بیوزلی په کمولو، کیږی.

۵ د بیوزلی په کمولو کې د پرمختګ د منځګړتوبونو د لاسته راوړنو د ښه والی لپاره دی د مستحقینو په سم تعین کې پام وشی.

- ظریف معیارونه چې د زیان منونکو ډلو پیژندوی دی، چې د ښځو د مشری لاندی کورنیو له حد څخه اوړی، هغه د لا نور هم پراخ شی دغه کار د جنسیت په هکله د لوړو معیارونو د تنظیمولو د ټولنیزه ساتنی د پایې لاندی راځی، چې هدف یې د زیان منونکو ښځو لپاره د حالاتو ښه والی دی، چې د هغو کورنیو سره ګډ شوی وی چې مشری یا سرپرستی یې د ښځی په لاس کې دی.

۶ د معلولینو د کورنیو د ژوند د ساتنی دلا ښه والی لپاره د له هغو سره مرستی سمون وموومی، دغه مساله د افغانستان په ټولنیک کې د اړونده معیارونو څخه ملاتړ کوی.

- د هدفمندو مهارتونو او د کار د پروګرامونو له لاری، د معلولو اشخاصو توان ته تر ممکن حد پوری ښه والی ور په برخه شی تر څو د کورنی په عاید کې برخه واخلی
- هغه معلول اشخاص چې د کار توان نلری، د هغو لپاره د ټولنیز ملاتړ پروګرامونو سرته رسونه او هغوی ته د لاس رسی لاره هواره شی تر څو په دغو کورنیو کې د ژوند ساتنه ډاډه شی.


د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره
د ګل فروشی کوڅه (د دوهمی کوڅی ګوښه)
نوی ښار، کابل
ټلفون ۰۷۹۹۶۰۸۵۴۹ (۰) ۹۳+
برېښنا بته areu@areu.org.af
برېښنا پاڼه www.areu.org.af


AREU
Afghanistan Research and Evaluation Unit